# د کالیفورنیا لپاره د انګلیسی ژبې د مهارت لومړنی ارزونو (ELPAC) د پوهیدو لپاره د والدینو لارښود

مونږ پوهیږو چې ستاسو ماشوم ښوونځي ته ځان سره ډیر ځواک راوړي او ممکن په ټولګي کې اضافي مرستې ته هم اړتیا ولري.



## څوک دا ازموینه اخلي؟

کله چې تاسو ښوونځي لپاره د خپل ماشوم نوم لیکنه کړي، تاسو د انګلیسی پرته بله لومړنۍ ژبه انتخاب کړیده ، ستاسو ماشوم به لمړنۍ ایلپک ازموینه واخلي ترڅو معلومه کړي چې ایا دوی د انګلیسی زده کړې پر مهال په ټولګي کې اضافي مرستې ته اړتیا لري.

## ولې زده کوونکي دا ازموینه اخلي؟

د ایلپک (ELPAC) ابتدایي ازموینه به مرسته وکړي چې دا معلومه کړي چې آیا ستاسو ماشوم د انګلیسي زده کړې مرستې ته اړتیا لری . زده کونکي د انګلیسی ژبې په اوریدلو، ویلو ، لوستلو او لیکلو مهارتونو په اړه ازمویل کیږي چې دا ازموینه به ستاسو د ماشوم ښوونکي ته هغه برخو په اړه معلومات ورکړي چې ستاسو ماشوم اضافي مرستې ته اړتیا لري..

## زده کوونکي دا ازموینه کله اخلي؟

زده کوونکو څخه د لومړي ځل لپاره د کالیفورنیا په یوه ښوونځي کې د نوم لیکنې څخه ورسته د ۳۰ ورځو په ترڅ کې لومړنی ایلپک ازموینه اخستل کیږي. تاسو به د خپل ماشوم له ښوونځی څخه پدی اړه چې ازموینه کله اخستل کیږی اضافي معلومات ترلاسه کړئ.

## زده کوونکي دا ازموینه څنګه اخلي؟

دا ازموینه ټاکلي وخت پوری ندی تړل شوی او کمپیوټر د لاری اخستل کیږی ، مګر هغو زده کوونکو لپاره چې نشي کولی پخپله کمپیوټر وکاروي مرسته شتون لري. ازموینه د ۳ تر ۱۲ ټولګیو زده کوونکو څخه په کوچنیو ګروپونو کی اخستل کیږی، یواځې د خبری کولو برخه چې هر زده کوونکي څخه یو په یو ازموینه اخستل کیږي. د وړکتون څخه تر ۲ ټولګي زده کوونکو ټولي ازموینې یو په یو اخستل کیږي، اما د ۲ ټولګي زده کوونکو څخه د لیکلو برخه په کوچنیو ګرویونو کی اخستل کیږی.

## دی ازموینې لپاره کومې سرچینې شتون لري؟

د ازموینې په مهال ، ستاسو ماشوم به د اړتیا وړ سرچینو/موادو ته لاسرسی ولری لکه روښانه کوونکی قلم (هایلایټر) ، کتابچه او اضافی کاغذ. دا سرچینې/مواد زده کوونکو سره ازموینې په ترسره کولو کی مرسته کوی او په هیڅ ډول د زده کوونکو په نمرو اغیزه نه کوی. تاسو کولای شئ د خپل ماشوم ښوونکی سره د نورو شته سرچینو په اړه چې ممکن ستاسو ماشوم سره مرسته وکړي خبرې وکړئ. همدارنګه د خپل ماشوم د اوریدلو، خبرې کولو، لوستلو او لیکلو مهارتونو په اړه هم کولای شی خبری وکړې ترڅو هغی سره په زده کړو کی مرسته وکړې.

## څنګه کولی شم خپل ماشوم سره مرسته وکړم؟

- خپل ماشوم ته یادونه وکړئ چی تاسو او د دوی ښوونکی غواړئ چې دوی خپله نهایئ هڅه وکړي او دا چی تاسو هلته یاست چې د ازموینې په هر پړاو کی د دوی ملاتړ کوئ.
- د زده کوونکو د نمرو راپورونو ښه پوهیدلو لپاره Starting Smarter https://elpac.startingsmarter.org ویب پاڼې څخه لیدنه وکړئ، نمونه ای پوښتنو څخه کتنه وکړئ او خپل ماشوم سره زده کړو کی مرستې لپاره سرچینو/موادو ته لاسرسی پیدا کړئ.

ستاسو ماشوم د نمرو په اړه د نورو معلوماتو لپاره ، د خپل ماشوم ښوونکي او/یا د ښوونځی دفتر سره اړیکه ونیسئ.

July 2022